
# CALIFORNIA DRIVER HANDBOOK (PASHTO)



# د ډریوری(موټر چلونی) لپاره د DMV پښتو سوالونه او ځوابونه:

# (د کلیفورنیا ایالت لپاره)

Date: August 01, 2019

Prepared and Translated by: Eng. Khair Mohammad Lalzai and Dr. Mohammad Rafi Safi

**یادونه:**

د DMV دلاندی سوالونو د لوستلو څخه مخکی یو څو سپارښتنی:

۱: دغه سوالونه او ځوابونه د هغه لوستونکو لپاره ځانګړی شویدی چه دانګلیسی ژبی سره اشنایی نه لری.

۲:مونږ تر ډیره بریده هڅه کړی چه کلیفورنیا ایالت د DMV د موټرچلونی کتاب په لنډ او ساده ډول په پښتو ژبه ترجمه او دسوالونو او جوابونو په شکل برابر کړو .د ډیروجزیاتو لپاره (د California Driver Handbook English ته مراجعه وکړی) او د اصلاح او تصحیح په خاطر خپل سالم نظریات، انتقادات او نیوکی مونږ سره په drrafisafi@gmail.com or khair.m@gmail.com سره شریک کړی.

۳:د لوستونکو دښه پوهیدو لپاره په ځینی سوالونو کی د ځینی انځورونو څخه استفاده شوی .اوځینی پوښتنی د **هو**/ **نه** په شکل او ځینی یی تشریحی بڼه لری او صحیح جواب زیړ رنګ په واسطه نشانی شوی دی.

۴: که چیری غواړی چی دغه سوالونه ځان ته چاپ کړی بهتره به وی چه د رنګه چاپ څخه کته واخلی تر څوانځورونه پخپل اصلی حالت ولیدلای شی ځکه چه پدی نوټ کی اکثره انځورونه رنګه دی . د نموړی مجمو عی د : https://khairmo.blogspot.com/ انټر نیټی لینک څخه لاس ته راوړی شی.


۱: U Turn (۱۸۰ درجی تاویدل یا شاګرځ) کوم وخت کی د سرک په څلور لاری کی غیری قانونی دی.

جواب: هغه وخت کی کله د No – U Turn (د دور نه کولو، شاګرځ) علامه موجود وی



۲:د Slow Moving Vehicle ( دورو یا قرار تلونکی موټر علامه ) کومه ده.

جواب:لاندی مثلث ډوله علامه چه کله د ځینی موټرو پر شاه نښتی وی .






۳: ایا دا غیری قا نونی خبر ه ده چه یو ماشوم چه عمر یی ۶ کاله او یا د ۶ کالو څخه کم وی پداسی حال کی یواځی په موټر کی پریښودل شی چه موټر چا لان وی او کلی هم په کی وی.

جواب: نه هو

۴:کله هم کولای شو و چه د بنودل شوی سرعت څخه تیز ولاړ شو؟

جواب:هو                نه

۵:کله چه یو موټر خرڅ اویا بل چا ته انتقال شی   DMV

(د موټرونو او ګاډو څانګه )په ۵ ورځو کی خبره کړی شی؟

جواب:       هو         نه

۶: هغه علامی چه موټر مو په ښی لاس کی وساتی یا وچلوی کومی دی.




جواب:دغه علامی دی

۷: که د یو چا په وینه کی د الکهولو(شرابو) اندازه٪ ۰،۰۸ او یا لوړه شی غیری قانونی ده که نه ،پداسی حال که چه عمریی ۲۱ کال او یا ددی څخه پورته وی.


جواب : هو                  نه

البته که د چا عمر د ۲۱ څخه کم وی نو د الکهولو(شرابو) اندازه که ٪ ۰،۰۱ هم وی غیر قانونی ده.

۸: ایا موټر باید د با سیکل چلونکی سره کربنه (لاین) شریک کړو ؟

جواب:          هو          نه

۹:کله چه د School Bus( ښوونځی بس) ولاړ وی او سره اشاره یی روښانه کړی وی ایا موټر په احتیاط سره ورځخه تیریدی شی که نه؟



نمونی انځور

جواب: هو        نه    تر څو پوری چی سره اشاره روښانه او مړه کیږی ،موټر ورځخه نه شی تیریدلی .

۱۰: د موټر د ټکر په وخت کی د مخالف طرف موټر چلونکی سره License( د موټر چلولو جواز) او Insurance( بیمه) او ادرس باید تبادله شی؟

جواب: هو نه

۱۱: کله چه په یو Free Way(ازاده لاره)چه د سرعت اندازه یی ۶۵ میله پر ساعت وی اونور ی موټری په ۳۵ میله پر ساعت سره روانی وی نو تا سو هم په ۳۵ کی ځی؟

جواب: هو نه



۱۲: دغه علامه د څه معنی لری

جواب: ددی معنی دا ده چه مخکی د Stop Sign (ودریدلو) علامه ده .

۱۳: کله چه په یو Intersection (څلور لاری ) کی روان یی او د Ambulance ( بیړنی موټر ) اواز واوری نو پدی حالت کی باید څه وکړی ؟

جواب: د څلور لاری څخه به تیر شی او ښی لاس کی یو طرف ته به ودریږی.

۱۴:کله چه د پولیس د موټر اواز(Law Enforcement) واوری نو تاسو به څه کوی؟

جواب: کله چه د موټر چلولو په وخت کی د پولیس د موټر هارن واوری نو د ښی لاس اشاره به روښانه کړی او د سر ک ښی لاس ته به ودریږی.

۱۵:Blind Spot ( ړنده نقطه ) کومه نقطه ده.

جواب: Blind Sport(ړنده نقطه) هغه سا حه ده چه موټر چلونکی (Driver) یی د موټر د بغل په شیشه کی نه شی لیدلی نو چلونکی مجبور دی چه دوواړو خواو ته مخ واړ وی تر څو نژدی موټر ولیدلی شی اود ټکر څخه مخنیوی وشی.

۱۶:کله چه یو موټر او بایسکل چلونکی یو ځا ی Intersection یاڅلوری لاری ته ورسیږی ، د لومړیتوب حق د چا دی.

جواب: موټر والا به صبر وکړی او اول حق به سیکل چلونکی ته ورکړی چه تیر شی

۱۷:دغه Road Sign( سرک علامه) د څه معنی لری؟



جواب:  مخکی راتلونکی سر ک(Winding way) کوږ وږ دی.

۱۸:د  Slippery Road(ښویدونکی سرک ) علامه ؟یعنی هغه  سر ک چه د واوری او یخ له کبله  د موټر د ښویدو امکا ن لری کومه یوه ده؟



جواب: دغه علامه ده

۱۹: د ریل ګاډی Rail Rood د تیریدلو  علامه کومه ده؟







جواب: دغه علامه ده.

۲۰: Fogs یا کله چه وریځ یا ګردو  غباروی نو تا سو به د خپل موټر کوم قسم ګروپونه روښانه کوی:

الف: تیز ګروپونه High-Beam Head Lights

ب:  کم زوری ګروپونه Low-Beam Head

ج: عاجل ګروپونه یا اشاری Emergency Single

د:د ودریدلو ګروپونه یا اشاری Parking Lights

۲۱: California Speed Law د کلیفورنیا ایالت دموټرو د سرعت قوانین وایی چې:

الف: د نوروترافیکو (موټرو) سره یوشان سرعت ولری.

ب: هیڅکله مو موټر تیز مه چلوی ترسو چه د فعلی حالت لپاره محفوظ نه وی .

ج:همیشه په هغه سرعت کی حرکت کوی کوم چه ددی سړک لپاره تا کل شوی وی (Posted Speed Limit).

۲۲: د موټر سیکل چلونکی او موټر چلونکی په هکله کومه خبره حقیقت لری؟

جواب: موټر سیکل چلونکی عیناً د موټر چلونکی پشان مسؤلیتونه او حقوق لری.

۲۳: د نورو موټرو پسی نږدی تلل(Tail Gaiting) یعنی د هغوی د شاتنی بمپر سره نږدی کیدل د کوم کار سبب کیږی؟

جواب: د نورو موټرونو چلونکو د قهر سبب کیږی، د جریمی سبب کیږی او همدارنګه د ټکر چانس زیاتوی.

۲۴:ایا د داسی درملو استعمال چه ستاسو د موټر چلولویا Driving Ability د اختلال سبب کیږی یعنی ستاسو د موټر چلولو وړتیا متاثره کوی د لاندی حالاتو څخه په کوم یو کی جواز لری:

الف: هیڅکله جواز نه لری.

ب: چه تاسو خوبوړی نه اوسی.

ج: که چیری درمل د یو ډاکټر لخوا لیکل شوی وی.

۲۵:تاسو د باسیکل په کرښه Bike lane باندی کله او څومره خپل موټر چلولی شی؟

الف: که چیری ستا سی سرعت په یو ساعت کی پنځه میلو5mile/hour څخه کم وی.

ب: مخکی لدی چه ښی خواته وګرځی یعنی Right Turn وکړی تر ۲۰۰ فټو پوری پکی تللی شی.

ج: کله چه باسیکل چلوونکی نه وی موجود.

۲۶:موټر چلوونکی با ید د چا لارښونه ومنی؟

الف: Security Guard امنیتی محافظ چه په پارکینګونو کی ګزمه کوی.

ب: د هغه موټر چلوونکی چه په لاره کی یی موټر خراب شوی وی.

ج: Flaggers هغه بیرغ لرونکی (اشاره ورکونکی) خلک چه د سړک په غاړه د سړک رغونی په سا حه کی موجود وی.

۲۷:کله چه تاسی په ښاری ساحه کی په یوسړک موټر چلوی او Emergency Vehicle (بیړنی پیښی موټر) ستاسو شاته وی ، او بیړنی اشاره Flashing Lights هم چا لانی کړی وی پدی صورت کی تا سی باید څه وکړی؟

الف:د سړک ښی څنډی ته ورځو او ورو ورو موټر ته حرکت ورکو یا چلوو.

ب: د سړک ښی څنډی ته ورځو او موټر دروو یا توقف ورکوو.

ج:په خپل لاین کی ودریږو او پریږدو چه د بیړنی پیښی موټر تیر شی.

۲۸:کله چه ستاسو موبایل ته دموټرچلولو په وخت کی زنګ راشی او ستاسو موټر د Hand Free سیستم ونه لری یعنی تلیفون دی موټر سره نه وی وصل شوی ، نو تاسو باید پدی حا لت کی څه وکړی:

الف:تاسو باید د تلیفون زنګ ته جواب ورکړی.

ب: پریږدی چه زنګ غږیز پیغام یعنی Voice mail ته ولاړشی.

ج:مخکی له دی چه جواب ورکړی لومړی شمیره چک کړی.

۲۹:د یو دوامداره یا اوږدی زیړی کرښی یعنی Solid Yellow Line تر څنګ د قطعه شوی زیړی کرښی یعنی Broken Yellow Line دا معنی ورکوی چه موټر:

الف:ددوامداری زیړی کرښی څخه موټر تیریدلی شی.

ب: چه د قطعه شوی زیړی کرښی یاBroken Yellow line تر څنګ موټر د تیریدلو حق لری.(په لاندی انځور کی شین او سور موټر د تیریدو حق لری خو زیړ موټر حق نه لری)

ج: پدی دواړو خواو کی تیریدای راتیریدای شی.



نمونی انځور

۳۰:کله چه تاسی غواړی په یو دوه طرفه سړک کی موټرپداسی حال کی ودروی چه سړک مایل وی او دسړک غاړه کی پوله یعنی Curb هم نه وی موجود پدی صورت کی تاسی د خپل موټر مخکی ټایرونه کومی خواته کوی یعنی اشترنګ Steering کومی خواته تاووی:

الف:پدی ډول موټر درو چه ټایرونه مخامخ وی یعنی هیڅ لوری ته نه وی تاوشوی.

ب: د ټایرونو مخه د سړک غاړی ته کوو یعنی اشترنګ د سړک غاړی خوا ته تاوو.

ج:اشترنګ د سړک مرکز خوا ته تاوو.


نمونی انځور

۳۱:په یو Cross Walk یاد پلی خلکود سړک نه د تیریدلو ځای(دهلیز) کی چه ترافیکی اشاره یا Signal نه وی لړول شوی تاسی د لومړیتوب حق چا ته ورکوی:

جواب: د لومړیتوب حق یا Right of Wayپلی خلکو ته ورکول کیږی.

۳۲:کولای شوو چه یو ما شوم چه عمر یی ۸ کاله وی دموټر په مخکی سیټ کی کښینوو پداسی حا ل کی چه د موټر په ورستی سیټ کی نور ما شومان ناست وی چه عمرونه یی د ۷ کالو څخه کم وی؟

جواب: هو بلی مونږکولای شوو پدی حالت کی ۸ کلن ما شوم د موټر په مخکی سیټ کی کښینوو.

۳۳:د خپل موټر څراغونه یا Head Lights د لمر غورځیدلو څخه څومره وروسته چا لانوی:

الف: ۱۵ دقیقی ورسته.

ب: ۳۰ دقیقی یعنی نیم ساعت ورسته.

ج: ۶۰ دقیقی یعنی یو وروسته.

۳۴:ددی لپاره چی د بل موټر څخه مخکی شو باید څه وکړو:

جواب:باید مخی ته وګورو چه دسړک حالات او موټری یا Traffic وڅارو.

۳۵:هغه کسان چه معیوب یعنی Disable وی او د معیوبیت شین کارت ولری خپل موټر په کوم ځای کی پارک یا ودرولی شی:

الف: Green Curb یا شنی څنډی تر څنګ.

ب:






Blue Curb یا ابی یا اسمانی رنګه څنډې تر څنګ

ج: Red Curb سری څنډی تر څنګ .

د: White Curb سپینی څنډی تر څنګ.

۳۶:د سرک پر غاړه دشیانو غورځول(اچول) Loitering څومره جریمه لری:

جواب: ۱۰۰۰ ډالره او شیان به هم بیر ته جګوی.

۳۷:ددی لپاره چه د بل موټر شاه پسی جوښت تګ یا Tailgating ونه کړو کوم قانون پلی کړو:

الف: د ۴ ثانیو قانون.

ب: د ۲ ثانیو قانون.

ج: د ۳ ثاینو قانون. د ا پدی معنی ده چه تاسو تر ۳ پوری حساب وکړی او بیا هغه نقطی ته ورسیږی چه بل موټر ستاسی څخه وړاندی روان وه.

۳۸: Locked Wheel Skid د اشترنګ د بندیدو له کبله خویه کیدل د څه شی له کبله رامینځته کیږی.

جواب: دغه حالت په لوړ سرعت کی د قوی بر یک د نیولو له کبله مینځته راځی یعنی کله چه یو شخص قوی بریک ونیسی نو بیا موټر اشترنګ نه شی تاووالی او هغه بندیږی.

۳۹:Two Sets of Solid Double Yellow lines یا دوه جوړه زیړ مسلسل یا دومداره خطونه( لاندی شکل وګوری) چه یو بل څخه دوه فټه یا د هغه څخه زیاته مسافه ولری څه معنی لری:

الف: دوه طرفه ترافیک Two Way Traffic

ب: د پارکنګ ساحه Parking Lot

ج: مانع یا Barrier( یعنی موټر نه شی کولا ی ددی څخه تیر شی)


نمونی انځور




۴۰: دغه علامه څه معنی لری:

الف: yield یا لاره ورکړی.

ب: Slow Moving Vehicle کراره تلونکی موټر.

ج: Hazardous Material مضر مواد.

د: توقف Stop .

۴۱:لاندی علامه دا معنی لری چه تاسو هوای میدان ته نژدی کیږی:



۴۲:دSkid یا خویدنی په وخت یعنی کله چی موټر درڅخه وخویږی نو ددی حالت د اصلاح کولو لپاره کوم یوول اشترنګ تاوول صحیح دی:

الف: Hand –By-Hand لاس په لاس.

ب: Hand –Over-Hand لاس د بل لاس له پاسه.

ج:One –Hand یو لاسه.

د: Push-Pull کش ټیله.

په ټولو جدی حالاتو کی Hand-Over-Hand تخنیک استعمال کړی

نوټ:معمولاً که چیری اشترنګ فرض کړو د ساعت شکل ولری نو مونږ با ید یو لاس د ۲ بجو او یو لاس د ۱۰ بجو ساحه کی کیږدو او بیا Hand-Over-Hand تخنیک استعمال کړو




نمونی انځور


۴۳:هغه ترافیکی Ligh یا ګروپ چه ژړ غشی یا Arrow چه روښانه او مړ کیدونکی وی یعنی Flasing Yellow Arrow معنی یی دا ده:

الف: Stop وکړه یا ودریږه تر څوچه بل Signle یا اشاره راشی او راتلونکی اشاره تعقیب کړه

ب:په احتیاط سره پر مخ لاړ شه لاکن متوجه اوسه چه د غشی یا وکتور په استقامت حرکت کول منع دی

ج: په هغه طرف چه Arrow یا غشی په لور ښودل شوی دی په تیزی یا سرعت سره حرکت وکړه.

د: په احتیاط سره پر مخ ولاړشی البته د غشی یا Arrow په استقامت خو لومړی باید پلی خلکو او نورو ترافیکو ته لاره ورکړی.


نمونی انځور

۴۴:کله چه تاسو داسی یو دری لاری ته ورسیږی چه یو فرعی سر ک یو عمومی سړک یا Through Roadسره د T په شکل وصل شوی وی او دکومی ترافیکی اشاره په واسطه کنترول شوی هم نه وی پداسی حال کی تا سو باید څه وکړی:

الف:عمومی Through Road سړک ته داخل نه شی.

ب:په دیر یو تیز Turn یا ګرځیدل وکړی تر څو د حقیقی سړک د ترافیکو( موټرو) سره مو سرعت یوشان وی.

ج: اکسلیټر ورکړی تر څو د نورو موټروسره برابرولاړ شی.

د: Yield یا صبر وکړی پیاده خلکو ته او یا موټر ته چه د مخه په حقیقی سرک کی وی اجازه ورکړی تر څو تیر شی بیا تا سو په احتیاط سره حقیقی سړک ته داخل شی.

۴۵:کله چه تاسی Free Way یا لوی لاری ته ننوځی نو تاسو باید په کوم سرعت سره داخل شی؟

جواب: په هغه سرعت سره Free Way ته داخل شی کوم چه د همدی Free Way یا لوی لاری ته تاکل شوی وی او نور ترافیک (موټری) پکی روانی وی . یعنی په هغه سرعت یا د هغوی سره نږدی مثلاً نوری موټر په ۶۵ کی روانی دی تا سی هم په ۶۵ یا ۶۰ میله پر ساعت سرعت کی داخل شی.

۴۶:کله چه تاسو غواړی د یو سړک نه بل سړک ته په ښی لاس تاوشی یا Right Turn کړی نو پدی وخت کی تاسی پیاده یا Pedestrain ګوری چه د یو لارښود یا Guide Dog ورسره دی او د سرک په کونج کی ولاړی دی او سرک تیردولو ته چمتو دی او غواړی چه ستا په مخ کی د سړک څخه تیر شی . نو مخکی لدی چه تاسو ښی لاس ته تاو یا Right Turn وکړی تاسی باید:



نمونی انځور

الف: خپل موټرانجن بند(خاموش) کړی.

ب:پیاده سړی یا Pedestian ته ووایی چه کله د سړک څخه تیر شی.

ج: معطل شی یا انتظار وکړی تر څو پیاده خلک د سړک څخه تیرشی بیا تاسو ښی لاس ته تاو شی.

۴۷:کوم یو د لاندی حالاتو څخه تاسو سره مرسته کوی تر څو مو موټر د شاه لخوا ونه وهل شی؟

الف: بل لاین ته اوختل Merge into another Line.

ب: بل موټر سره خپله مصافه کمه کړی.

ج: په مکرر ډول لاینونه بدلول یا Changing Lane Frequently

۴۸:تاسی غواړی چه له باسیکل والا څخه مخکی شی کوم چه ستاسو د لاین په ښی اړخ کی روان دی نو:



نمونی انځور

الف: تاسی با ید حتماً ورته هارن ووهی مخکی لدی چی ورڅخه مخکی شی.

ب: هیڅکله باسیکل والا تنګ ځای ته مجبور نکړی یعنی لاره باید هیڅکله تنګه نکړی.

ج:هیڅکله باسیکل والاڅخه په هیڅ دلیل مخکی نه شی.

۴۹:تاسو باید حتماً په ۱۰ ورځوکی DMV ته د ټکر Accident راپور وکړی کله چه تا سی:

الف: یو ټکر کړی وی چه تاسو مقابل طرف ته د ۷۵۰ ډالرو تاوان اړولی وی یا یکی څوک ذخمی یا مړ شوی وی.

ب:پلان لری چه د ایالت یا State څخه د ۳۰ ورځوڅخه د زیاتی مودی لپاره ووځی.

ج:غواړی چه یوځل بیاد خپل موټر قرضه Refinance ( قسط وار د خپل موټر قرض اداکړی).

۵۰:کله چه تا سو غواړی له بل موټر څخه مخکی شی باید:

الف: د نورو موټر چلونکو څخه د ا طمعه یا توقع ونلری چه هغوی به تاسی ته لاره پریږدی.

ب:داسی فرض کړی چه هغوی به تاسی ته هغه وخت د مخکی کیدو اجازه درکړی چه تا سو خپله اشاره یا Signal روښانه کړی وی.

ج:داسی فرض کړی چه هغوی به ثابت سرعت وساتی.

۵۱:پیاده (پلی) خلک یا Pedestrian په څلور لاری(Intersection) د سړک څخه تیریږی یعنی د تیریدلو دهلیز یا Cross Walk کی د لمړیتوب حق هغه وخت لری چه:



نمونی انځور

الف:دغه څلور لاری یا Intersection د ترافیکی اشاری په واسطه کنترولیږی.

ب:یواځی هغه صورت کی چه دغه تیریدو دهلیزیا Cross Walk رنګمالی شوی وی (یعنی خطونه پکی ترسیم شوی وی).

ج: که دغه د پلی خلکو د تیردلو دهلیز رنګ شوی وی، اویا نه وی په هر حالت کی Pedestrain د لمړیتوب حق لری .


۵۲: کله چه یو پولیس افسر تا سو ته اشاره کوی چه Driving یا موټر چلولو ته دی دوام ورکړه په سره اشاره یا Red Light باندی ورتیر شه ، پدی صورت کی تاسی څه کوی؟

الف: هغه څه وکړی چه پولیس افسر درته ووایی.

ب: شنی یا Green Lightاشاری ته منتظر شی.

ج:لومړی Stop وکړی بیا وروسته هغه څه وکړه چه پولیس افسر درته وایی.

۵۳:تاسی غواړی چه چپ لاس ته تاو یا Left Turnوکړی اود سړک په منځنی یا وسطی برخه کی یولاین یا ترافیکی کرښه(Center Lane) موجوده ده نو تاسی باید سه وکړی؟




نمونی انځور

الف:چپ لاس ته وروسته له هغی تاو شی چه د چپ لاس اشاره یا Signle مو روښانه کړی وی.

ب: په پوره یا کامل ډول لومړی پدی لاین یا کربښی کی درداخل شی. مخکی لدی چه چپ لاس تاوو شی یا Left Turn وکړی.

ج:دی لاین یا کربښی ته په هیڅ صورت کی مه ننوځی.

۵۵:په کوم حالت کی به دا قانونی خبره وی چه تاسی د Driving یا موټر چلولو په حالت کی خپل موبایل کی خبری وکړی پداسی حال کی چه کوم Hand Free ( ګوشکی ) سیستم هم ونه لر؟

الف:کله چه په سره اشارهRed Light ته د انتظار حالت کی یاست.

ب: کله چه تاسو بیړنی یا عاجلی مرستی لپاره زنګ وهی یا Emergency Call.

ج:هیڅ کله هم نه Never.

۵۶:لاند زیره علامه یا Sign څه معنی لری.





الف: مخی ته یو لاینه سړک دی One Lane Road Ahead.

ب: مخی ته بل لاین یو ځای کیږی Merging traffic ahead.

ج:لاین مخی ته ترل شوی دی Lane End a head.

۵۷:یو لوی ټرک(لاری) غوړی چه پداسی یو سړک کی ښی لاس ته تاو شی چه دغه سړک په هر لاس کی دوه لاینه لری یعنی دی سړک ته تاو شی نو:




نمونی انځور

الف: دا ټرک کولای شی یا په ښی یا په چپ لاس کی خپل تاویدل یا Turn تکمیل کړی.

ب: که اړتیا ولری چه د ښی طرف ته تاویدلو یا Right Turn په وخت کی د چپ لاین یو برخه استعمال کړی.

ج:باید په هر حال کی په ښی لاین کی پاتی شی.

۵۸:کله چه په لوی لاری یا Free Way کی لاین بدلوی یا Lane Change کوی تاسی باید:

الف: کم تر کم تر ۵ ثانیو پوری د همهغه طرف چه تاسی غواړی ورته واوړی یا لاین بدل کړی اشاره روښانه یا Signalورکړی.

ب:خپل سرعت مو کم کړی مخکی لدی چه لاین بدل کړی.

ج: که چیری تاسی لومړی اشاره یا Signal روښانه کړی وی نو داسی فرض کړی چه تاسی لپاره کافی ځای اوس موجود دی.

۵۹:کله چه تاسی د داسی یو لوی لاری یا High way څخه چه دوه لاینه ولری ، ښی لاس ته تاوشی یا Right Turn وکړی نوتاسی باید:

الف: د هغه لاین څخه ښی لاس ته تاویږی کوم چه د سرک مرکزی برخی ته نږدی وی.

ب: د هغه لاین څخه ښی لاس ته تاویږی د سړک غاړی یا Curb ته نږدی وی.

ج:د هر لاین څخه چه وی د مخامخ ترافیکو پوری اړه لری چه کوم لاین څخه ښی طرف ته تاویږی .

۶۰:د موټر په مینځ کی سګرټ څکول پداسی حال کی چه یوشخص چه عمر یی۱۸ کاله یا د هغی څخه کم عمر ولری هم موجود وی:

الف: قانونی دی که چیری دا ستا خپل ما شوم وی .

ب: په هر حالت کی غیر قانونی.

ج:قانون ورته کوم محدودیت نه دی ورکړی.

۶۱:High Way یا لوی لاره په وضعی ډول په کوم وخت کی ډیری خویه وی یعنی دموټر خویه کیدو سبب کیږی یا Most Slippery وی.

الف:د شدید طوفانی باران په وخت کی.

ب: کله چه دیو وچ موسم نه وروسته یعنی د د باران په لومړی څو شیبو کی.

ج:کله چی دیو اوږدی مودی لپاره باران ورېږی.

۶۲:کله چی تاسی د غبار اوګرد له کبله نوری موټری چی ستاسی نه مخکی روانی دی صحیح نه شی لیدلی پدی وخت کی باید څه وکړی:

الف:د خپل موټر زیړی یا Emergency Lights روښان کړی.

ب: خپل ددریدلو یا Parking Light روښانه کړی.

ج: خپل Head Lightsیا مخکی ګروپونه روښانه کړی او خپل سرعت کم کړی.



نمونی انځور

۶۳:تاسی باید په کوم وخت کی خپل د موټرهارن Horn استعمال کړی.

الف: ستا په مسیر یا لاره کی بل موټر وی.

ب: کله چه Horn هارن د ټکریا حادثی په مخنیوی کی مرسته کوی Prevents a Colission .

ج: بل موټرچلونکی غلطی کړیده یا که بل موټرچلونکی غلطی وکړی.

۶۴:دغه سپینه علامه څه معنی لری.




جواب: دا علامه دا معنی ورکوی چه هغه موټری چه ورو حرکت کوی با ید د سړک په ښی لاین کی حرکت وکړی.

۶۵: دا علامه څه معنی لری.



جواب:دغه علامه دا معنی لري چه چپ لاس ته تاویدل یا Left Turnمنع دی.


۶۶:یو غټ ټرک د یو دری لاینه سړک په منځینی لاین کی روان دی او تاسی غواړی چه تری مخکی شی نو دا به ډیره بهتره وی چه تاسی:

الف: په تیزی سره چپ لاس ته مخکی شی.

ب:په ډیر کراره کراره ورځخه چپ لاس ته مخکی شی.

ج:په ډیره چټکتیا سره ښی لاس ته ور څخه مخکی شی.

۶۷: د سړک په مینځ کی د مداری(مسلسلی) دوه ګونی زیړی کرښی Double Solid line څه لپاره وی.



نمونی انځور

الف: ددی لپاره چه د بل موټر څخه مخکی نه شی ( یعنی په هیڅ وخت کی تا سی دا لاین نه شی اوختی یا crossing ).

ب:چه Left Turn یاچپ لاس ته تاو شی.

ج: یو شخصی Private سړک یا کوڅی ته ورننوځی.

یعنی مونږ کولای شو چه که چپ لاس ته اړتیا وی پری تا شو او یا Private drive way ته پری داخل سو خو د بل موټر نه با ید مخکی نه شوو.

۶۸: :دغه علامه څه معنی لري.



جواب: دغه علامه دا معنی لری چه  U-Turn  (۱۸۰ درجی تاویدل) مه کوی یا  U-Turn منع دی.

۶۹:که تا سو په یوه دوه طرفه سړک کی روان یاست چه ستاسو په استقامت څو لاینه ولری اوس تا غواړی چه U-Turn(مکمل دور) وکړی نو تاسی به د کوم لاین څخه U-Turn شروع کوی؟

الف: د منځنی لاین څخه.

ب: د سړک د غاړی یا  Shoulder څخه.

ج:  د چپ لاین څخه.

۷۰:که چیری یو مخا مخ راتلونکی یا مخالف طرف(جهت) موټر چه ستا سی معکوس(سرچپه) روان وی ( یعنی تاسی مثلاً ښکته تلی او دا پورته) په یو نا څا پی ډول یی چپ لاس ته تاو شی پدی صورت کی تا سو څه کوی؟

الف:  Hornها رن وهی چه مقابل موټر چلونکی ته یو اخطار شی او خپل سرعت دی ثابت وسا ته.

ب:خپل سرعت دی همغسی وساته او حق اولیت ممکن ستا وی.

ج:  کرار شه او یا  (ودریږه)Stop  وکړه تر څو چی د ټکر څخه دی مخنیوی کړی وی.

۷۱:  په یو داسی Undivided High Way  یعنی (غیری تقسیم شوی وی لوی لاری)  چه هر لاس کی دوه لاینه ولری هغه موټری چه ځان پسی بل څه راکش کوی (Towing) نو دا موټری په اغظمی ډول تر کوم سرعت تللی شی:

الف:  ۷۰ میله پر ساعت.70mph

ب:  ۵۵ میله پر ساعت.55mph

ج:  ۶۰ میله پر ساعت.60mph

د:  ۶۵ میله پر ساعت.65mph

۷۲: دغه علامه څه معنی لری.





جواب: دغه علامه دا معنی لری چه پدی لاره یا سړک کی مه داخلیږی ( یعنی دا سړک یو طرفه سړک دی او یوائې د وتل Exit پری کیږی)

۷۳:د Driversیا موټر چلونکو په هکله کومه خبره رښتیا ده؟

الف:موټر چلونکی یا Drivers همیشه د ترافیکی اشارو Signal اطاعت کوی.

ب: موټر چلونکی یا Drivers چه کله د کوم لوری (چپ یا ښی) ته د تاویدلو Turn اشاره روښانه کړی بیا په همغه طرف تاویږی.

ج: هیڅکله فکر مه کوی چی نور موټر چلونکی به تاته خپله لار ه پریږدی یعنی Right of Way.

۷۴:تا سو په یوه داسی لوی لاره High Way روان یاست چه ۵ لاینه لری او تا سو په پنځم لاین یا اخری لانی( اخرنی چپ) کی حرکت کو پدی وخت کی تا سی پوه شوی چه تاسی با ید اوس Exit یا لوی لاری څخه ووځی نو تاسی د لاندی حا لاتو څخه کو م یو عملی کوی:

الف:په احتیاط سره ټول لاینونه په یوځل Cross کړی یعنی تری تیر شی.

ب: یوائې یو لاین په یو وخت کی بدلوی یا Lane Change او همداسی ادامه ورکړی تر څو چه منا سب لاین ته ورسیږی یعنی لومړی د پنځم لاین څخه څلورم لاین ته شی او بیا وګوری چه څه نشته دریم لاین ته شی بیا دوهم لاین ته او بیا لومړی لاین څخه Exitوکړی.

ج: د هر لاین د بدلولو څخه د مخه ورو یا بطی یاSlow کیږی.

۷۵: دغه علامه څه معنی لری.


The End of divided High way 

جواب:دغه علامه دا معنی لری چه تقسیم شوی لویه لاره یا high way پاتی ته ورسیده(A) یا شروع شوه (B).

یعنی د سړک د مینځ پوله ده چه دوه سړکونه سره جداکوی.

۷۶: تاسی به د لاندی حالاتو څخه په کوم حالت کی د خپل موټر مخکی ټایرونه د Curbیا د سړک د غاړی پولی خواته کوی کله چه پارکنګ یا موټر ودروی ؟ داسوال تکراری دی.

الف: کله چی مخ ښکته ولاړیاسته یا Falling downhill .


نمونی انځور

ب:مخ پورته مو خپل موټر ودرولای وی Up hill.

ج:په همواره ( برابره) یا Leveled شوی سړک باند موټر پارک کړی وی.

۷۷:کله چه تا سو یو داسی څلور لاری یا Intersectin ته ورسیږی چه هلته د پیاده خلکو د سرک نه د تیریدلو دهلیز محدودونکی کرښی Limit Line موجودی نه وی نو تا سو به خپل موټر په کو م ځای کی ودروی؟

الف: فقط د څلور لاری څنډی نه تیر شی او بیا ودریږی Just Pass the Corner.

ب: د څلور لاری د څنډی سره At the corner.


نمونی انځور

ج:د څلور لاری د څنډی نه ۲۰ فټه شاته.

۷۸:دغه ابی علامهBlue Sign څه معنی لری.




الف: یوائی دهغه خلکو دموټر پارکنګ لپاره چه تیر لرونکی چوکی Wheelchair استمعالوی.

ب:د هغه معیوبو یا Disabled خلکو دموټر پارکنګ لپاره چه خاص نمبر پلیټ Liceince Plate ونلری.

ج: یوائی د هغه معیوبو خلکو دموټر پارکنګ لپاره چه خاص کارت Placecard او یا خاص معیوبی نمبر پلیټ Disable Plate د موټرولری.

۷۹:تاسی پداسی یو سړک کی د حرکت په حال کی یا ست چه یوائی یو لاین لری او له تاسو مخکی موټر د کوم دلیل پرته اکثراً ورو Slow کیږی تاسی پدی حال کی څه کوی؟

الف:خپل موټر تیزوی یا Speed Upکوی چه زر تری مخکی شی.

ب: د مخکی موټر او خپله موټر تر مینځ فاصله Flowing Distance زیاته کړی.

ج: Head Light Flasingیعنی خپل مخکی ګروپونه وپړقوی تر څو د مخکی موټر چلونکی خبر یا بیداره شی.

۸۰: Heavy Fogsیا شدید ګرد او غبار کی د لاندی کارونو څخه کو م یو یی د هوښیاری کار دی.

الف: کوشش وکړی چه موټر چلونه یا Driving ونکړی او تر هغه معطل وکړی چه دغه حالت بنه شی.

ب:بی اندازی ورو یا قرار مه ځی چه نو موټر چلونکی دی ونه ووهی.

ج: کله Lowاو کله High یا تیز او بیم ګروپونه روښانه کړی تر څو د لیدلو ساحه دی بنه شی.

۸۱:په یو High way یا لوی لاری با ندی د حیواناتو پریښودل(Damping or Abondoning) او یا پا ملرنه یی نه کول د څومره جریمی او قید سبب کیدای شی.

جواب: ۱۰۰۰ ډالر او ۶ میاشتی قید سبب کیدای شی.



نمونی انځور

۸۲:د موټر چلولو په وخت کی موټر چلونکی Driver باید کومی خواته وګوری:

الف: همیشه یواځی مخامخ یا سیده وګوری او بل خواته ونه ګوری.

ب: یواځی هغه موټرو ته وګوری کوم چه ورځخه مخکی روان وی.

ج: خپل شا او خوا ټوله ساحه وڅاری Scan your sorrounding.

۸۳:د موټر چلولو Driving په وخت د درملو د استعما ل په هکله کومه خبره ریښتیا ده؟

الف: ټولی دواګانی یا Drugs ډاکټر تاسو ته لیکلی وی محفوظی دی پدی شرط چه تا سو خوبوړی یا Drawsy نکړی.

ب: هغه دواګانی چه بغیر د ډاکټر د نسخی نه پرته Over counter دوکا نی هم کولای شی ستاسو Driving یا موټر چلول متا ثره کړی.

ج:یواځی هغه دواګانی چه کولای شی ستا موټر چلونه یا Driving متاثره کړی.

۸۴:دلاند ی جملو څخه کومه یوه د سړک د ترمیم کاری ساحه Road Work Zone په هکله حقیقت لری.

الف:د جریمی اندازه د کاری ساحی او نورو ساحو یو شان ده .

ب: تاسی بایدحتماً د کاری یا Cone zone مخرطونو ساحه کی ورو یا Slow شی.



نمونی انځور




ج:یواځی هغه وخت ورو یا Slow شی کله چه تا سو فکر کو چه کارګران لګیا دی کا ر کوی.

۸۵:په څلورلارویا(Internsection)، سرک تیردلو دهلیزیا (Cross Walk) ،د اورګاډی تیریدلو ساحه یا (Railroad Crossing) تاسی باید همیشه:

الف: Stop یا توقف وکړی ، عوږ کیږدی او بیا حرکت وکړی که چیر ی تا سی هیڅ نه شی اوریدلی.

ب: د خپل موټر بغلونو ، اطرافونو یا Sides ته وګوری.

ج: یواځی په راتلونکی ترافیک یا موټرو تمرکز وکړی.

۸۶:تاسی با ید ولی د یو غټ موټر څخه دیره فاصله ولری کله چه له تاسو مخکی راوان وی.

جواب: ددی لپاره چه تاسی پوه شی چه ددی غټ موټر شاوخوا ته څه دی یا څه حالات دی.

۸۷:کله چه تاسی په یو طرفه کوڅه یا سړکOne way Street کی روان یاست تاسی د لاندی حالاتو څخه په کوم یو حالت کی کولای شی چی بلی کوڅی یا One way Streetچپ لاس ته تاوو یا Left Turnوکړی.

الف: یواځی هغه وخت چه ترافیکی علامه دی ته اجازه ورکوی چه Left Turn وکړی.

ب: که چیری د هغه One Way Streetیو طرفه کوڅه موټری یا ترافیک ښی لاس ته د حرکت په حال کی وی.

ج: که د هغه One Way Streetیو طرفه کوڅی موټری یا ترافیک ددی خوا ته د حرکت په حال کی نه وی.

۸۸: که چیری تا سی د نورو موټرو د جریان څخه ورویا قرار ځی Drive Slower Than flow of Traffic پدی صورت کی لاندی حالاتو څخه د کوم یو حالت د مینځته راتلو امکان دی؟

الف: تاسی د ترافیکو یا موټرو داختلال یاInterfere with Traifficeسبب کیږی او د جریمی ټکټ (Ticket) به درکړ شی.

ب: تاسی د ترافیک د بهبودی یا ښه والی سبب ګرځی.

ج: تاسی پدی کار سره د دفاعی چلونی یا Defening Driving تخنیک ښودنه کوی.

۸۹:تاسی په کو م وخت کی کولای شی چه حیوانات د پک آپ ډاټسن یا Pickup Truck په شاته بر خه کی انتقال کړی:

الف: ددی پک آپ ډاټسن بغلونه کم تر کم ۱۸ انچه لوړوالی ولری.

ب: حیوانات په مناسب ډول محفوظ شوی وی یا (Proper Secured).

ج: ددی پک آپ ډاټسن شا تنی دروازه یا Tailgateتړلی وی.

۹۰:د لاندی موټرو څخه کوم یو د اورګاډی د تیردلو ځای Railroad Corssingڅخه مخکی Stop یا توقف وکړی:

الف: هغه ټانکر چه زیا ن رسونکی مواد و ټاپه Hazardos Material Placard پری لګیدلی وی.

ب: موټری کورونه یا ګرځنده کورونه یا Mobile Homes یا Pickup Truck چه د ځان سره یو Trailerیا ګاډی کش کوی یا Towکوی.

ج: Sport Utility Vehicles S.U.V هغه موټر چه د ځلورو کسانو څخه زیا ت کسان انتقالوی.

۹۰:دغه علامه څه معنی لری.



الف:Crossroad یا څلور لاری.

ب: مخی ته د سړک لاینونه مخ په کمیدو دی.Lane End Merge Left .

ج:جدا شوی سړک Devided Highway

۹۱: دغه علامه څه معنی لری.



الف: Crossroad یا څلور لاری.

ب:Stop Ahead د درنګ کولو ځای مخی ته دی.

ج: تقسیم شوی لارهDevided Highway .

۹۲: دغه علامه څه معنی لری.



الف: دوه طرفه ترافیک Two Way Traffic.

ب: نری پل Narrow Bridge .

ج: نوی ورګډېدونکی لاین Merging Lane .

۹۳: دغه علامه څه معنی لری.




الف: د ځنګ ساحه Side Area .

ب: لاربنود غشی Direction Arrow .

ج: د ښی طرف لنډه تاویدنه Sharp Right Turn .

۹۴: دغه علامه څه معنی لری.



الف: نوی ورګډېدونکی لاین Merging Lane .

ب:دوه طرفه ترافیک Two Way Traffic .

ج:ښی طرف لاین وسا تی Keep Right .

۹۵: دغه علامه څه معنی لری.

الف: مخی ته ترافیک شته Traffic Ahead .

ب: مخی ته تعمیراتی یا جوړونی کار Construction work روان دی.

ج: مخی ته د لاره ورکړی علامه ده Yeild Ahead .

۹۶: دغه علامه څه معنی لری.



جواب: دغه علامه دا معنی لاری چه مخی ته ۳۶۰ درجی تاویدنکی موړ دی خپل سرعت کم کړی. Sharp Turn Reduce Speed


۹۷: دغه علامه څه معنی لری.



نمونی انځور

جواب: یعنی د سرک مینځ کی گرده دایره ده چه هر طر فه ته تری تللی شی. مثال( د کابل په ښار کی د عبدالحق څلور لاری دایره)

۹۸: دغه علامه څه معنی لری.



الف:Left Turn Ahead یا مخکی چپ لاس ته تاویدلو علامه راتلونکی ده.

ب: Right Rurn Ahead یا مخکی ښی لاس ته تاویدلو علامه راتلونکی ده.

ج: Dircetion Arrow رښنماء کونکی غشی.

۹۹: د موټر چلونکی یا Driverڅخه غوښتنه کیږی چه په هغه لاربښونو عمل وکړی چی کوم:

الف: د نورو موټر چلونکو لخوا چه په لاره کی یی موټر خراب شوی وی.

ب: Flaggersیا بیرغ لرونکی شخص (Signal Persons) کوم چه کاری ساحو یا Construction Area کی موجود وی.



نمونی انځور


ج:نظارت کونکی شخص یا Security Guard کوم چه د پارکنګ خوا کی ګزمه کوی.

۱۰۰:د کلیفورنیا ایالت د سرعت قانون Basic Speed Law وایی چه: تکراری دی

الف: هیڅکله دهغه سرعت نه تیز موټر مه چلوی کوم چی دی فعلی حالت لپاره محفوظ وی.

Never drive faster than it is safe for current condition.

ب:خپل سرعت د نوروترافیکو سره نژدی حد کی وساتی.

ج:همیشه په هغه سرعت کی کوم چه دی سرک لپاره مقرر شوی وی.


Always drive at the posted speed limit.

۱۰۱:کله چه تاسو په یو FreeWay(پراخه لاری) کی د یو غټ ټرک Large Truck شا ته روان اوسی تاسی باید:

الف: غټ ټرک ښی خواته خپل موټر وچلوی او انتظار وکړی تر څو چه تری تیر شی.

ب: تا سی با ید غټ ټرک ته ډیر نژدی موټر وچلوی یعنی د هغه اندازی نه نژدی کوم چه د یو وړوکی موټر سره یی لری.

ج: د غټ ټرک شا ته با ید لری روان وسی نسبت هغه مصافی ته چی تاسی دیو وړکی موټر سره لری Farther Behid .




نمونی انځور

۱۰۲:کله چه تاسی د یو موټر څخه چه ستاسی په لاین کی ستاسی نه مخکی روان وی او تا سی تری مخکی شوی اوس غواړی چه بیرته خپل مخکنی لاین ته راوګرځی نو هغه وخت راګرځیدلای شی چه د هغه موټر مخکی ګروپونه یا Head Lights په خپل عقب شیشه کی وګوری.

۱۰۳:کله چه تاسو په یوه تیاره سړک کی د شپی لخوا روان وسی او د خپل موټر تیزو ګروپونو High Beam مو روښانه کړی وی کله چه تاسو مخکی موټر پسی ۳۰۰ فټ نژدی شوی خپل ګروپونه Dim یا کم کړی.

۱۰۴: دغه علامه څه معنی لری.



جواب: دغه علامه دا معنی لری چه مخی ته یو نری پل دی او سړک به تنګ وی یا Narrow Bridge.


۱۰۵:د غټ ټرک مخ کی د زیاتی اضافه ساحه یا Extra Space د څه لپاره وی.

جواب: دا ساحه Truck Driver لپاره ده تر څو خپل موټر پکی Stop کړی یا ودروی.

۱۰۴:کله چه تاسو په کلیفورنیا ایا لت California کی موټر چلوی تاسی دی سره موافقه کوی چه تاسی د یو کیماوی ټیسټ سره مخامخ کیدی شی چه په هغه کی ستاسو د وینه، تش متیازی او تنفس کی د شرابو یا الکهولو اندازه معلومه کړی.

۱۰۵:حادثه یا ټکر هغه وخت زیات پیښږی چه یو موټر د ترافیکو د جریان څخه یا ورو یا تیز روان وی.

۱۰۶:کله چه تا سو په یو همواره سړک یا Level Road کی د سړک غاړی ته خپل موټر پارک کوی باید د موټر مخکی ټایرونه مو سیده وی او ۱۸ انچه د سړک د غاړی یا Curb څخه لری پارک کړی اود Curbسره موازی پارک کړی.


نمونی انځور

۱۰۷:کله چه تاسی ته ترافیکی شنه اشاره Green Arrow روښانه شوی وی بیا هم تاس با ید حق اولیت پیاده خلکو، باسیکل او هغه ترافیکو ته ورکړی کوم په څلوری کی موجود وی.

۱۰۸: کله چه تاسو په یو کم روښانه شوی سړک با ندی د شپی لخوا موټر چلوی نو تا سی بای ؟

په کاپی اندازه ورو ولاړشی یعنی دومره ورو چه تا سی وکولای شی په هغه سا حه چه تاسی د موټر ګروپونو پواسطه روښانه شوی ده خپل موټر ودروی.

۱۰۹: هیڅکله د پوخ شوی سړک څخه د سړک لمنی یا Shoulder ته پدی خاطرمه ښکته کیږه چه د بل موټر څخه مخکی شی یعنی Under No Circumstances.

۱۱۰: کله چه تاسی د یو Railroad Crossing یا ریل گاډی د تیریدلو ځای ته رسیږی چه تا سو ته هیڅ د خطر Warring Sign علامه موجود نه وی تاسی تر ۴۰۰ فټو ساحه کی په کوم سرعت حرکت کوی:


الف: 20mph ، ۲۰ میله پر ساعت.

ب: 25mph ، ۲۵ میله پر ساعت.

ج: 15mph ، ۱۵ میله پر ساعت.

۱۱۱: دسړک سپین رنګ شوی غاړه White Painted Curb څه معنی لری.

جواب: د مسافرو یا سوارلی ښکته کولو او پورته کولو د Mail لپاره او یا د بارولو یا Loading ځای دی.


نمونی انځور

۱۱۲:د چپ لاس ته د تاویدو په خاطر Left Turn اشاره باید د ۱۰۰ فټه په مصافه خپل د موټر د چپ طرف تاویدو اشاره روښانه کړی.

۱۱۳: په دریم درجه د موټر چلولو جواز یا Class C License باند ی یو ډرایور کو م موټری چلولی شی:

الف: هغه موټری چه دوه ټیلری یا Trailerکشوی.

ب:هغه موټری چه دری اکسله 3-Axle ولری او هر څومره وزن چه ولری پروانه کوی.

ج: یو اکسله 1-Axle چه مجموعی وزن د ۶۰۰۰ پونډو څخه کم وی.

۱۱۴: تاسی په یو Free Way کی روان یا ست چه د سرعت اندازه یی ۶۵ میله پر ساعت ، Speed Limit: 65mph ښودل شوی خو نوری موټری په ۷۰ میله پر ساعت کی روان دی نو تا سی باید:

الف: 65mph-70mph ، د ۶۵ نه تر ۷۰ میله پر ساعت حرکت وکړی.

ب: 65mph ، د ۶۵ میله پر ساعت څخه پورته ولاړ نه شی.

ج: د 70mph، د ۷۰ میله پر ساعت او ددی څخه هم تیز تر څو د نورو ترافیکو سره برابر شی.

۱۱۵: ښی لاس ته د تاویدو په خاطرRight Turnاشاره با ید د ۱۰۰ فټه په مصافه خپل د موټر د ښی طرف تاویدو اشاره روښانه کړی.او دباسیکل لاین ته داخل نه شی.



نمونی انځور

۱۱۶:تاسی با خپل موټر په کوم ځای کی ونه دروی:

الف:دیو لمړنی ښونځی په ۱۰۰ فټو کی Elementry School .

ب: د یو سور رنګ شوی سړک غاړی ته Red Painted Curb .

ج:دیوی Free Way په څنډی کی کله چی یوه بیړنی پیښه شوی وی.

۱۱۷:کله چه ښی لاس ته تاویږی با  Right Turn کوی باید وروشی ای یا Stop وکړی که اړتیا وی.

۱۱۸:ایا د ا غیری قانونی یا  Illegalده چه خپل موټر په یو :

الف:  Unmarked Crosswalkغیر نشانی شوی پیاده رو کی ودروی.

ب: Bike Laneیا د باسیکل لاین کی ودروی.

ج:په یو شخصی Private Drivewayسړک کی ودروی.

۱۱۹:دغه علامه څه معنی لری.



Truck Crossing Zone

جواب: دغه علامه دا معنی لری چه پدی سا حه کی ترک تیریږی.

۱۲۰:یو ما شوم با ید څومره عمر، څومره وزن او څومره قد ولری تر څو د Car Seat ( د ماشوم چوکی) څخه نارمل (عمومی) سیټ ته بدل شی.

جواب:د ماشوم عمر باید اته ۸ کاله یا پورته وی پدی شرط چه ونه (قد) یا  Height یی ۴ فته او ۹ انچه وی او وزن یی باید ۶۰ پونډو وی.

که چیری د ۸کلنی وروسته قدی پوره نه شی کولای شی چه  Boster Seat څخه استفاده وکړی.


نمونی انځور


Boster Seat

Car seat

۱۲۱:داور وژنی اوبو نل یا Fire Hydrant څخه باید څومره لری موټر ودرولی شی.

جواب: ۱۵ فته لری.

۱۲۲:د ریل ګاډی د تیریدلو په وخت کی کله چه دروازی راښکته وی  د ریل پاټلی یا  Track څخه باید ۱۵-۵۰ فټوپوری لری ودریږو .

نمونی انځور


۱۲۳:کله چه سره ترافیکی اشاره یا Red Light ګل او بل کیږی باید  Stop وکړی او بیا تیر شی.

۱۲۴:U-Turn په Residential District یا د خلکو د اوسیدلو په ساحه کی د لاندی څخه په کو حالت کی قانونی دی.

الف:  کله چه مخامخ یا ستاسی په لور کوم موټر د حرکت په حال کی نه وی یعنی ستاسی خواته نه راځی.

ب:Solid Double yellow lines دوه جوړه زیړ خطونود پاسه.

ج: یو  One Way یا یوطرفه سړک کی په شنه اشاره یا Green Arrow باندی.

۱۲۵:لاندی حالاتو څخه په کوم حالت کی د خپل موټر مخی کی دیره مصافه پریږدی:

الف: کله چه موټر سیکل ستاسی مخی ته روان وی.

ب: Station  Vagon دی مخی ته روان وی.

ج: مسافر وړونکی موټر دی مخی ته روان وی.

۱۲۶:د لاندی حالاتو څخه په کوم حالت کی تاسی کولای شی د الکهولو یا شرابو خلاص شوی بوتل د ځان سره په موټر کی ولری:

الف: که چیری د غه بوتل ستا سی د سیټ لاندی وی.

ب: که چیری دغه بوتل ستا په Glove Box ( د ډرایور خوا ته په مخکی سیټ مخی ته د سا ما ن بکس)کی وی.

ج: په  Trunkیا ډاله( دموټر په شاه) کی .

۱۲۷: د لاندی کوچنیان څخه کوم یو یی د  Chield Resteain یا دماشوم سیټ  (Car Seat) ته اړتیا لری:

الف: ۶ کلن ما شوم چه قد یی  ۴فټه او ۱۰ انچه (4ft and10 inch)وی.

ب:۸ کلن ما شوم جه قد یی ۴فټه او ۹ انچه(4ft and10inch ) وی.

ج: ۷ کلن ما شوم چه قد یی ۴ فټه او ۷ انچه (4ft  and 10Inch) وی.

۱۲۸:کله چهUpHillیا د تپی له پاسه موټر ودروی یا پارک کوی پدی صورت کی باید Parking Break کش کړی او موټر مو په ګیر Gear کی ودروی.لاندی انځور لیدلی شی.




نمونی انځور

۱۲۹: Hand Signal یا په لاس اشاره کول په کوم شکل دی:

جواب:




توقف یا ودریدل : چپ طرف ته تاویدل : ښی طرف ته تاوید

۱۳۰: عمومی ترافیکی علامی په لاندی ډول دی:



# WARNING SIGNS خبرداری نښې



لوی لاره په نیم میل کی ختمیږی



دی ساحه کی یو موټر د بل
موټر څخه نه شی مخکی کیدی



ترافیک چپ لاین کی
رایوځی کیږی




لاین ختمیږی او ترافیک چپ
طرف ته رایوځی کیږی


د باسیکل لاین



دمکتب بس سټاپ یا ودریدو ځای


PEDESTRIAN
CROSSING
د پلی خلکو د تیردو ځای



تنګ یا نری سړک




د پاخه سړک ختمیده



د سړک خامه بغل یا جی



د باران اوبو جمعه کیدونکی ځای



نر ی پل



مخکی څلور لاری یا دوه ترافیکی
لاری یو د بل څخه تیریږی



ښویدونکی ساحه



خراب سړک یا غیری حموار



دمکتب ماشومانو د سړک نه
تیریدولو ځای




اوتری یا چریی



TRUCK ROLLOVER
REDUCE SPEED

د ترک د چپه کیدو امکان سرعت کم کری



MERGING
TRAFFIC

رایوځای کیدونکی ترافیک




مخکی ترافیکی اشاره ده

# 7 Critical Traffic Signs
# (۷ مهمی ترافیکی علامی)




دری ثانیی ودریدل یا ځنډ کولو علامه




لاره ورکری یا صبر وکری




غلطه لاره یا سمت




د بل موټر څخه مه مخکی
کیږی




دی سرک ته مه داخلیږی



NO LEFT TURN

چپ طرف ته تاویدل منعه دی




یو طرفه سرک

## عمومی ترافیکی علامی REGULATORY SIGNS



NO PARKING

دی ځای کی پارکینګ (موټر ودرول )
منعه دی



NO U-TURN

دی ځای کی ۱۸۰ درجی تاویدل منعه دی




یواځی ښی طرف ته تاویدلو ځای




هیڅ وخت کې دې ځای کې پارکینګ کول جواز نلري



ښي طرف کې وسی



قرار تلونکی ترافیک دی په ښي طرف وسی


KEEP LEFT

چپ طرف کې وسی



دوه طرفه چپ طرف تاویدنه

TWO WAY LEFT TURN



دوه طرفه ترافیک مخکې راتلونکی دی



په سره اشاره تاویدل منعه دی



چپ طرف تاویدل یواځای په شنه اشاره کې



سرعت اندازه ۵۰



تاویدنکی ترافیک باید پلی خلکو ته صبر وکړي



د کیکاڼلو تنی د سړک نه د تیریدو لپاره




د اورګاډي یا ریل پټلی



یواځای چپ طرف ته تاویدل یا مخامخ تګ په دوهم لاین کې


چپ طرف ته یا ۱۸۰ درجی تاویدل

LEFT OR U-TURN



یواځای ښي لاین ته تاویدل یا په دوهم لاین کې مخامخ تګ



مه تاویږی




ښي طرف لاین باید ښي طرف ته تاو شي



قرار تلونکی ترافیک د لاین څخه وځي



یواځې بیړني پارکینګ یا موټرودرول





په تپه راښتونکو ترافیک ته صبر یا لاره ورکړی




## HIGHWAY CONSTRUCTION AND MAINTENANCE SIGNS

## د لوی لاری جوړونه او مراقبت(ساتنی) ترافیکی علامی




## د لاربنود علامی یا GUIDE SINGS

